مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۵/۰۹/۲۲

# پرې شوې رابطه

## (لنډه کیسه)

دوه ـ درې ځلې مې د ګامونو ترپا تر غوږ شوه، ځان سره مې ویل: دا ټکنده غرمه، دا سوزونکی لمر او بیا د یو چا د چټکو ګامونو مسلسل غږونه! له خونې مې راوتلو ته زړه نه کیده. له کړکۍ مې انګړ ته کتل، چرګان د دیواله بیخ ته راټول ول، مښوکې یې خلاصې نیولې وې او مرۍ یې ښکته او پورته کیدې.

زه لا هماغسې د کړکۍ شاته ولاړ وم چې بیا د ګامونو غږونه شول، ورو ورو یې غږونه لوړیدل. دا ځل ورسره ګونګسه هم وه، لکه څوک چې په منډه کې خبرې کوې. زړه مې طاقت ونکړ، پر سر مې څادر خور کړ، له حجرې راووتلم او د کوڅې خواته د کور ور مې پرانیست. لږ دوړې ښکاریدې خو څوک نه ول. هملته د وره سیوري ته ودریدم. شیبه وروسته، بیا غږونه شول. د کوڅې بر سر ته مې وکتل. یوه میرمن په چټکو ګامونو راخوشې وه. ژر د وره اړخ ته پټ شوم او پټ پټ مې کتل. د خبرو غږ یې لوړیده، خو سم پرې نپوهیدم. رانږدې شوه. ځان مې پوره پټ کړ. هغې چټک ګامونه اخیستل، خولې ته یې یو شی نیولی و او خبرې یې کولې:

ورته ووایه، ډالر به پیدا شي؛ خو ګوره مړ مې نکړې. ورته ووایه چې مور مې درته پیسې درلیږي. زویه! پیسو سره درته د درد ګولۍ هم درلیږم، ښه. هره شپه یې خوره، چې ویده شې بیا دې ټپونه درد نه کوي. ګوره.... نورې خبرې یې نه اوریدل کیدلې، له ګامونو سره یې دوړې پورته کیدې او روانه وه.

پس له درېیوو کلونو مساپرۍ مې په کور کې دا لومړۍ اونۍ وه او دا لومړی ځل و چې له داسې ننداري سره مخ کیدم. زړه کې مې ډول ډول پوښتنې را ولاړیدې او د هغې پر هره خبره مې فکر واهه.

مازیګر چې سیوري ښه را وګرځیدل، انګړ کې مو پلاستیکي سترنجۍ هواره کړه. څمکنی پکی مو له بترۍ چالان کړ او د هر یوه مخې ته د ګرم شنه چاې ډکې پیالې داسې کېښودل شوې، لکه له تودې هوا چې انتقام اخلو. زموږ مجلس روان و چې ور وټکېده. کوچیني ورور مې ورمنډه کړه او بیا ژر بیرته راغی: هغه زرینه لیونۍ ده! ژر مې خور ورته پر خوله لاس کېښود او بیا یې ورته ویل: په منډه لاړ شه او زرینې ترور ته دروازه پرانیزه!

شیبه پس میرمن را ننوتله، هره خوا یې اوتر اوتر کتل. ټول ورته ودریدو. په غاړه کې یې څلور کونجه کوچیني لرګي ټالۍ وهلې. کیناسته. ډکه پیاله یې ور وړاندې کړه. د غاړې لرګي ته یې کتل: غرمه مې ورسره خبرې وکړې. په کړس کړس یې وخندل: اوسني ځوانان ډیر درواغجن دي. هر ځل راته وایي چې دا جمعه راځم.... سترګې یې سرې شوې، رنې اوښکې پکې وځلیدې، شونډې یې ښکته او پورته لاړې. ټول غلي وو. داسې خاموشي خوره وه چې د هغې د زړه ضربان مو هم اوریده. یو دم یې لرګي ته لاس کړ، ګوتې یې پرې ووهلې او بیا یې ماته راوړاندې کړ: هه، ته ورسره وغږیږه. سم یې په خبره پوه کړه. ورته ووایه چې پیسې درته پیدا کوي، ورته ووایه چې دا غریب نور مه وهئ، ټپي ده. په ټپ وار ډېر بد درد لري. ورته ووایه، ظالمانو! دا خو مو په وینو لړلی دی، ولې؟ ولې؟؟؟ .... هغې، هماغسې ماته لاس غځولی و. په تار تړلی څلور کونجه لرګی یې راته نیولی و او زه یوې داسې ویرې پسې اخیستی وم چې غږ مې په مرۍ کې زینديۍ شوی و. بیرته یې لاس ټول کړ، پورته شوه، لرګی یې خولې ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ونیوه: وه هلکه ځنګه غلی يې!؟ اوس خوب هم نه راکوې؟ له تا يې لکه چې ژبه هم پرې کړې. له دې سره سلګيو ونيوله، روانه شوه، يو دم يې ګامونه چټک کړل او له انګړه ووتله.

ټول غلي وو. مور مې په خپلې خبرې چوپتیا دړې وړې کړه: خدای دې هیچاته د اولاد غم نه ورکوي. دا بیچارګۍ يې په تېر عمر ليونۍ کړه.

د پوښتنې جرئت مې بايللی و. فقط همدې ته منتظر وم چې څوک کیسه وغځوي. ترور مې ويل: دا دويم کال دی چې د زرينې زوی نادرکه دی. اول يې اوازه راغله چې قاچاقبرو په چا خرڅ کړی، هغه وخت يې د يوه خپلوان په غټ موبایل له مور سره خبرې کړې وې، په وينو ککړ مخ يې ورته ښودلی و او په سختۍ يې ويلي و: زه ورسره بندي يم، که قاچاقبر ته ۳۰۰۰ ډالر ونه لیږئ، وژني مې! بیا يې ورته خپلې پندۍ ښودلې وې چې په سيخانو داغل شوې وې. ډالر خو پرېږده، دې بيچارګۍ کونډې سره دومره افغانۍ هم نه وې. له دې احوال وروسته د زرينې حالات ورو ورو خرابيدل. نيمه شپه به يې چيغې وهلې، اوس دا دی له کوره هم وځي. اوله کې به يې هر چاته عذر او زارۍ کولې چې موبايل ورکړي او له خپل زوی سره وغږيږي. اوس يې همدا لرګی خولې ته نيولی وي او خبرې کوي.

پای

د وږي ۲۵مه، ۱۴۰۴


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ